Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د پښتو او باختري ژبو ترمنځ د فونولوژيکي او مورفولوژيکي ورته‌والي تاريخي‌پرتليزه شننه

**وحيدالله اميري[۱*] ، پوهاند دوکتور عزيزالله جبارخيل[۲]**

[۱]پښتو څانګه، ښووني او روزني پوهنځی، هلمند پوهنتون، هلمند، افغانستان

[۲]پښتو څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، ننګرهار، افغانستان

د مسؤل بريښناليک: amiri.786@yahoo.com

**تر لاسه سوې: ۱۴۰۵/۰۲/۱۹ منل سوې:۱۴۰۵/۰۴/۱۲ خپره سوې: ۱۴۰۵/۰۶/۳۱ د ثبت ګڼه:LSSAJ-3-1-07 مخونه:۱۲۸-۱۴۶**

**لنډيز**

د تاريخي‌پرتليزې ژبپوهنې له مهمو موخو څخه د ژبو د خپلمنځي اړيکو، ګډو ريښو او تاريخي تحول څېړنه ده. پښتو او باختري ژبې د ختيځو آرياني ژبو له مهمو استازو څخه دي چې د غږيزو، صرفي او لغوي ځانګړنو له مخې د تاريخي اړيکو د ارزونې لپاره ارزښتناک شواهد وړاندې کوي. د دې څېړنې موخه د پښتو او باختري ژبو ترمنځ د فونولوژيکي او مورفولوژيکي اړيکو علمي شننه او د دواړو ژبو د غږيزو، صرفي او ويیزو ورته‌والي تاريخي بنسټونو څرګندول دي. څېړنه د تاريخي–پرتليز ميتود پر بنسټ ترسره شوې او معلومات د باختري ژبې له معتبرو علمي آثارو څخه راټول او د پښتو له تاريخي او معاصرو بڼو سره پرتله شوي دي. موندنې ښيي چې دواړه ژبې په غږيز نظام، مورفيمونو، نومځرو، فعلي جوړښتونو، شمېرنومونو او بنسټيزو ويیونو کې د پام وړ ورته‌والی لري. پايلې څرګندوي چې باختري ژبه د پښتو د تاريخي ودې او ژبني تحول د څېړنې لپاره مهمه سرچينه ده.

**کليدي کلمې:** پښتو ژبه، باختري ژبه، تاريخي–پرتليزه ژبپوهنه، فونولوژي، مورفولوژي

# A Historical-Comparative Analysis of the Phonological and Morphological Similarities between Pashto and Bactrian Languages

**Wahidullah Amiri[1]*, Professor Dr. Azizullah Jabarkhail[2]**

[1]Department of Pashto, Faculty of Education, , Helmand University

[2]Department of Pashto, Faculty of Languages and Literature Nangarhar University

Email: amiri.786@yahoo.com

**Abstract**

Historical-comparative linguistics primarily aims to investigate the relationships among languages, their common roots, and their historical development. Pashto and Bactrian are among the important representatives of the Eastern Iranian languages and provide valuable linguistic evidence for examining their historical relationships based on phonological, morphological, and lexical features. This study aims to provide a scientific analysis of the phonological and morphological relationships between Pashto and Bactrian and to identify the historical foundations of the similarities in their phonological, morphological, and lexical features. The study employs the historical-comparative method, with data collected from reliable scholarly works on the Bactrian language and compared with historical and contemporary forms of Pashto. The findings indicate that the two languages show significant similarities in their phonological systems, morphemes, pronouns, verbal structures, numerals, and basic vocabulary. The results demonstrate that Bactrian is an important source for investigating the historical development and linguistic evolution of Pashto.

**Keywords**: Pashto Language; Bactrian Language; Historical-Comparative Linguistics; Phonology; Morphology.

## سریزه

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِهِ مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ!.

پښتو ژبه د اندواروپايي ژبکورنۍ د آرياني څانگې له مهمو ختيځو ژبو څخه ده چې د تاريخي تحول، لرغونو ژبنيزو ځانگړنو او غني لغوي زېرمې له امله د تاريخي او پرتليزې ژبپوهنې په څېړنو کې ځانگړی ځای لري. د دې ژبې د تاريخي ريښو د روښانولو لپاره د هغو لرغونو ختيځو آرياني ژبو څېړنه ځانگړې ارزښت لري چې په لرغوني افغانستان او شاوخوا سيمو کې دود وې. باختري ژبه، چې د کوشاني دورې رسمي ژبه او د لرغوني باختر د سيمې ژبه وه، د همدې ژبو له ډلې څخه ده. د سرخ کوتل، رباتک، روزگان، ناوور او نورو کتيبو له کشف وروسته د باختري ژبې د غږيز، صرفي او لغوي جوړښت په اړه ارزښتناک معلومات تر لاسه شول، چې د ختيځو آرياني ژبو د تاريخي اړيکو د څېړلو لپاره مهم بنسټ برابروي.

سره له دې چې د پښتو ژبې د تاريخي ريښو او د ختيځو آرياني ژبو ترمنځ د هغې د اړيکو په اړه بېلابېلې علمي نظريې وړاندې شوې دي، د پښتو او باختري ژبو د فونولوژيکي او مورفولوژيکي ځانگړنو منظمه او هراړخيزه پرتليزه څېړنه لا هم محدوده ده. ډېرى پخوانۍ څېړنې د باختري ژبې د کتيبو لوستلو، د ليکدود، تاريخي شاليد او لرغونپېژندنيزو موندنو پر معرفي کولو متمرکزې وې، او د دواړو ژبو د غږيزو بدلونونو، مورفيمي جوړښتونو، نومځړو، فعلونو او نورو گرامري ځانگړنو ترمنځ د اړيکو تحليلي ارزونه په کافي اندازه نه ده ترسره شوې. له همدې امله، لا هم دا پوښتنه د څېړنې وړ ده چې د دواړو ژبو ترمنځ موجود فونولوژيکي او مورفولوژيکي ورته‌والی تر کومه بريده د گډې تاريخي ريښې پايله ده او تر کومه بريده د جغرافيايي نږدېوالي او ژبني تماس محصول گڼل کېدای شي.

د باختري ژبې په اړه د هننگ(Henning)، نيکولاس سيمز-ويليمز(Nicholas Sims-Williams)، خليل الله اورمړ، عبدالحی حبيبي او يو شمېر نورو څېړونکو مهم علمي آثار خپاره شوي دي. دغو څېړنو د باختري ژبې د ليکدود، کتيبو، لغوي زېرمې او تاريخي ځانگړنو په روښانولو کې مهمه ونډه لرلې ده. همدارنگه، د پښتو ژبې د تاريخي او پرتليزو ځانگړنو په اړه د محمدقسيم چمتو، رفيع الله نيازي، دوست محمد شينواري او نورو ژبپوهانو ارزښتناکې څېړنې شته. سره له دې، داسې يوه څېړنه چې د پښتو او باختري ژبو فونولوژيکي او مورفولوژيکي ځانگړنې په منظم ډول د تاريخي–پرتليزې ژبپوهنې پر بنسټ سره پرتله کړي، تر اوسه لږ تر سترگو کېږي. همدې تشې د دې څېړنې د ترسره کېدو اړتيا رامنځته کړې ده.

د دې څېړنې علمي اهميت په دې کې دی چې د پښتو او باختري ژبو د غږيزو او مورفولوژيکي ځانگړنو د پرتليزې شننې له لارې د پښتو ژبې د تاريخي تحول، د هغې د لرغونو ژبنيزو ځانگړنو او د ختيځو آرياني ژبو په کورنۍ کې د هغې د ځای په اړه لا روښانه انځور وړاندې کوي. همدارنگه، د باختري ژبې د ژبني ميراث د ارزونې، د افغانستان د ژبني او فرهنگي تاريخ د روښانولو او د راتلونکو

تاريخي–پرتليزو څېړنو لپاره د مستندو علمي شواهدو په برابرولو کې هم مرسته کوي. د دې څېړنې موندنې نه يوازې د ژبپوهنې د څېړونکو لپاره ارزښت لري، بلکې د لرغونپېژندنې، تاريخ، فرهنګي مطالعاتو او آرياني ژبو د متخصصانو لپاره هم د استفادې وړ دي.

دا څېړنه د تاريخي–پرتليزې ژبپوهنې په چوکاټ کې يوازې د پښتو او باختري ژبو د فونولوژيکي او مورفولوژيکي ځانګړنو پرتله تر بحث لاندې نيسي. په دې لړ کې د دواړو ژبو د خپلواکو او ناخپلواکو غږونو، مورفيمونو، نومځرو، فعلونو، شمېرنومونو او يو شمېر ګډو لغوي ريښو پرتليزه شننه ترسره شوې ده. د نحوي، معنايي او ژبنيزو ځانګړنو پراخ بحث د دې څېړنې له حدودو څخه بهر دی او د راتلونکو څېړنو لپاره پرېښودل شوی دی.

**د څېړنې ارزښت**

د پښتو او باختري ژبو د فونولوژيکي او مورفولوژيکي ځانګړنو پرتليزه څېړنه د تاريخي–پرتليزې ژبپوهنې په برخه کې ځانګړی علمي ارزښت لري، ځکه چې د دغو دوو ختيځو آرياني ژبو د غږيزو او صرفي جوړښتونو د پرتله کولو له لارې د پښتو ژبې د تاريخي ريښو، د هغې د تحول پړاوونو او د آرياني ژبو په کورنۍ کې د هغې د ځای په اړه لا روښانه معلومات تر لاسه کېږي. دا څېړنه د باختري ژبې د ژبنيزو ځانګړنو او په معاصره پښتو کې د هغو د انعکاس د څرګندولو له لارې د دواړو ژبو د خپلمنځي اړيکو د علمي ارزونې لپاره مستند شواهد وړاندې کوي.

د دې څېړنې ارزښت په دې کې هم دی چې د پښتو او باختري ژبو د فونولوژيکي بدلونونو، مورفولوژيکي جوړښتونو، نومځرو، فعلونو، شمېرنومونو او ګډې لغوي زېرمې د پرتليزې شننې له لارې د ختيځو آرياني ژبو د تاريخي تحول د بهير په ښه درک کې مرسته کوي.

سربېره پر دې، دا څېړنه د باختري ژبې د پاتې ژبني ميراث د علمي ارزونې، د افغانستان د ژبني او فرهنګي تاريخ د روښانولو او د راتلونکو تاريخي–پرتليزو څېړنو د پراختيا لپاره ګټوره سرچينه ده. له همدې امله، د دې څېړنې پايلې نه يوازې د ژبپوهنې د څېړونکو، بلکې د لرغونپېژندنې، تاريخ، فرهنګي مطالعاتو او آرياني ژبو د متخصصانو لپاره هم ځانګړی علمي او عملي ارزښت لري.

سره له دې، د موجوده څېړنو ډېره برخه د باختري ژبې د تاريخ، ليکدود، کتيبو او لرغونپېژندنيزو موندنو پر معرفي کولو متمرکزه ده، او يا يې د پښتو او باختري ژبو ترمنځ يوازې محدود لغوي يا غږيز ورته‌والی ياد کړی دی. داسې يوه منظمه او هراړخيزه څېړنه چې د تاريخي–پرتليزې ژبپوهنې پر بنسټ د دواړو ژبو فونولوژيکي او مورفولوژيکي ځانګړنې په منظم ډول سره پرتله او تحليل کړي، تر اوسه کمه تر سترګو کېږي. له همدې امله، په دې څېړنه کې هڅه شوې چې د پښتو او باختري ژبو د غږيزو او مورفولوژيکي ځانګړنو پرتليزه شننه ترسره شي او د ختيځو آرياني ژبو په چوکاټ کې د پښتو ژبې د ځای او تاريخي تحول د روښانه کولو لپاره مستند علمي شواهد وړاندې کړي.

## د څېړنې ستونزه

د پښتو ژبې د تاریخي ریښو او د ختیځو آریاني ژبو ترمنځ د هغې د ځای په اړه بېلابېلې علمي نظریې وړاندې شوې دي، خو د پښتو او باختري ژبو ترمنځ د فونولوژیکي او مورفولوژیکي اړیکو په اړه تر اوسه جامع او منظم پرتلیز تحلیل لږ ترسره شوی دی. ډېری پخوانۍ څېړنې د باختري ژبې تاریخي، لرغونپېژندنیزو او کتیبوي اړخونو ته ځانګړې شوې دي، خو د دغې ژبې د غږیز او صرفي جوړښتونو او د هغو د پښتو ژبې له جوړښتونو سره د پرتله کولو برخه لا هم بشپړې څېړنې ته اړتیا لري.

همدارنګه، دا لا په روښانه ډول نه ده څرګنده شوې چې د پښتو او باختري ژبو ترمنځ موجود لغوي، فونولوژیکي او مورفولوژیکي ورته والی د ګډې تاریخي ریښې پایله ده، که د جغرافیایي نږدېوالي او ژبني تماس اغېز. د همدې علمي تشې د ډکولو لپاره په دې څېړنه کې هڅه شوې ده چې د دواړو ژبو د غږیزو او مورفولوژیکي ځانګړنو پرتلیزه څېړنه ترسره شي او د تاریخي ژبپوهنې پر بنسټ د هغوی د اړیکو ماهیت روښانه شي.

## پوښتنې

1. آیا د پښتو او باختري ژبو تر منځ ګډې فونولوژیکي اړیکې شته؟
2. آیا د پښتو او باختري ژبو تر منځ ګډې مورفولوژیکي اړیکې موجودې دي؟

## موخې

1. د پښتو او باختري ژبو ترمنځ د فونولوژیکي اړیکو څرګندول.
2. د پښتو او باختري ژبو ترمنځ د مورفولوژیکي اړیکو څرګندول.

## د څېړنې شالید

د پښتو ژبې د تاریخي ریښو او د ختیځو آریاني ژبو ترمنځ د هغې د اړیکو په اړه له اوږدې مودې راهیسې د کورنیو او بهرنیو ژبپوهانو له خوا بېلابېلې څېړنې ترسره شوې دي. د باختري ژبې د کتیبو له موندنې، په ځانګړي ډول د سرخ کوتل، رباتک، روزګان او ناوور د ډبرلیکونو له کشف وروسته، د دې ژبې د غږیز، صرفي او لغوي جوړښت په اړه نوي معلومات ترلاسه شول چې د ختیځو آریاني ژبو د تاریخي پرمختګ د څېړلو لپاره یې مهم بنسټ برابر کړ.

د باختري ژبې په برخه کې هننګ (Henning) لومړنی څېړونکی و چې د سرخ کوتل د کتیبې د لوستلو او شننې پر بنسټ یې دا ژبه د «باختري» په نوم معرفي کړه او د هغې د ختیځې آریاني هویت د تثبیت لپاره یې علمي دلایل وړاندې کړل. وروسته نیکولاس سیمز-ویلیمز (Nicholas Sims-Williams) د باختري ژبې د کتیبو، سکو او رسمي اسنادو د څېړنې له لارې د دې ژبې د غږیز او صرفي نظام په اړه ارزښتناک معلومات خپاره کړل او د باختري ژبې د تاریخ او لیکدود په روښانولو کې یې مهمه ونډه واخیسته.

په افغانســتان کې هم د باختري ژبې په اړه ګڼې علمي څېړنې شــوې دي. پوهاند عبدالحی حبيبي په (مادر زبان درب) اثر کې د سرخ کوتل کتيبې د ژبنيو ځانګړنو په څېړلو کې د باختري او پښــتو ژبو ترمنځ د ګڼو لغوي او صرفي ورته‌والي يادونه کړې ده. همدارنګه، ډاکټر خليل الله اورمړ په «مقدمه بر زبان باختری» کې د باختري ژبې فونولوژي، مورفولوژي، نومځري، فعلونه او لغوي جوړښــت په تفصــيل سره څېړلي او د معاصرې پښــتو ژبې سره يې د دې ژبې ځينې ګډې ځانګړنې وړاندې کړې دي.

## مواد او کړنلاره

دا څېړنــه د کيفـي (Qualitative) څېړنې پــه چوکـاټ کې د تـاريخي-پرتليز (Historical–Comparative)مېتود پر بنســټ ترسره شــوې ده. پـه دې مېتود کې د پښــتو او بـاختري ژبو د فونولوژيکي او مورفولوژيکي ځانګړنو د پرتله کولو لـه لارې د دواړو ژبو د تـاريخي اړيکو او ګډو ژبنيزو ځانګړنو شننه شوې ده.

د څېړنې معلومات د کتابتونې څېړنې (Library Research) له لارې راټول شـوي دي. د باختري ژبې ژبني مواد د باختري ژبې په اړه له معتبرو علمي آثارو، مقالو او څېړنو څخه ترلاسه شـوي دي. د پښتو ژبې ژبني معلومات د معاصرو او تاريخي ګرامرونو، فونولوژۍ او مورفولوژۍ له آثارو څخه اخيســتل شــوي دي. د معلوماتو د تحليل په پړاو کې د دواړو ژبو د خپلواکو او ناخپلواکو غږونو، مورفيمونو، نومځرو، فعلونو، شمېرنومونو، ګرامري جوړښتونو او ګډو وييونو پرتليزه شننه ترسره شوې ده. د تحليل موخه دا وه چې د دواړو ژبو ترمنځ د غږيزو او صرفي ورته‌والي او توپيرونو تاريخي بنســتونه وپېژندل شي او د پښـتو او باختري ژبو د خپلمنځي اړيکو ماهيت د مسـتندو ژبنيزو شـواهدو پر بنسـټ روښـانه شي.

## د څېړنې موندنې

### باختري ژبه

باختري د اندو اروپايي ژبکورنۍ د آريک ژبښـاخ د (آرياني) څانګې د منځنۍ دورې د ختيځې ډلې داسې ژبه ده، چې د اوسني افغانستان په شمال کې د لرغوني بلخ د مېشتو وګړيو ژبه وه، پر دې سربېره باختري د هغو کوشاني پاچاهانو مورنۍ ژبه هم وه، چې په لومړيو ميلادي پېړيو کې يې له مرکزي اسيا څخه تر هند پورې ســتره امپراتوري درلوده. په اندو اروپايي ژبکورنۍ کې د څانګيز ژبني وېش پر بنسـټ باختري د آريک څانګې د آرياني ژبو په منځني پېر کې په ختيځې څانګې پورې تړلې ژبه ده او دا په آرياني ژبو کې يوازينۍ ژبه وه چې په يوناني ليکدود ليکل کېده. د باختري ژبې په اړه علمي څېړنې د نولسـمې پېړۍ په پای کې پيل شـوې. دا څېړنې پر هغو سـکو، مهرونو او نورو موندل شـويو لرغونو توکو وې، چې په بېلابېلو سـيمو کې د لرغونپوهانو له لوري موندل شـويو وو ، خو پر ۱۹۵۱ز کال د بغلان د سرخ کوتل کتيبې له کشـف او موندنې سره د باختري ژبې څېړنې نوي پړاو ته ورننوتې.

د باختري ژبې او د کوشاني پېر د ځېړنو په برخه کې د رباتک او سرخ کوتل کتیبې له خورا ډېر اهمیت څخه برخمنې دي. د باختري ژبې له ځېړنو دا جوته شوې، چې له یوه اړخه دغه ژبه له پښتو او پامیري ژبو له ډلې یدغه او منجاني او له بله اړخه د آریاني ژبو د منځنۍ دورې له سغدي، خوارزمي او پارتي ژبو سره نږدې اړیکې لري. (نیازی،۱۳۹۸، ص ۲۷۳)

باختري ژبه د هندو ایراني ژبو له کورنۍ څخه یوازینۍ ژبه ده چې معمولاً په یوناني لیکدود لیکل کېده. دغه ژبه له میلاد څخه د مخه په څلورمه پېړۍ کې پر افغانستان باندې د مقدوني سکندر له تاړاکونو او یرغلونو څخه پاتې ده. له هغې زماني څخه راوروسته تر ډېره وخته پورې یوناني ژبه او لیکدود د اداري چارو د سر ته رسولو، د فرهنګ انعکاس او خپرولو یوازینۍ وسیله وه. هغه وخت چې بلخ د افغانستان د شمال د کوچي او صحرایي استوګنو د آسونو تر سومونو لاندې راغی، ددې هیواد نویو واکمنانو، یعنې کوشانیانو په لومړیو کې یوناني ژبه د خپلو اداري کارونو د پرمخبیولو له پاره ومنله، مګر لږه موده وروسته یې بومي باختري ژبه د یوناني لیکدود او الفبا څخه په استفادې ولیکله.

د باختري ژبې له پاره یوه ډېره مهمه تاریخي دوره هماغه وه چې د کوشاني عصر-ستر واکمن (پاچا) کنیشکا هوډ وکړ چې له دغې ژبې څخه د سکې وهلو له پاره هم کار واخلي. د کنیشکا د لومړیو سکو له خپرېدو څخه وروسته د لومړي ځل له پاره یوناني ژبې خپل ځای د تل له پاره باختري ژبې ته پرېښود.

په لومړیو مسیحي پېړیو کې باختري ژبه د نړۍ له مشهورو او سترو ژبو څخه ګڼل کېده، ځکه چې باختري ژبه یا د کوشاني پاچاهانو ژبه د کوشانیانو د لویې امپراتورۍ په ټولو سیمو، یعنې په افغانستان، د هندوستان په شمالي برخو او د منځنۍ آسیا په مرکزي برخو کې رسمي ژبه وه او په پراخه توګه ورڅخه استغاده کېدله. آن دا چې د کوشانیانو د امپراتورۍ له ړنګېدو څخه وروسته، د پاکستان د توچي په وادي کې د نهمې پېړۍ له د بودایانو په لاس لیکلو آثارو څخه تر شپږو پېړیو پورې کار اخیستل شوی دی.

څلوېښت کاله د مخه هم د باختري ژبې په هکله د کوشانیانو او د هغوی پر ځای ناستو د سکو پر مخ د انځورونو او لیکنو څخه پرته بل هیڅ سند او مدرک په لاس کې نه و. د کوشانیانو د سکو پر مخ یوناني الفبا په راویه لرونکي ډول حک شوې ده، چې ظاهراً د لیکنو له دې ډول څخه د یادګاري ډبرلیکونو د لیکلو له پاره کار اخیستل کېده، چې د سکو پرمخ د لیکنو لوستل په آسانه توګه کېدی شول، مګر ددې لیکنو محتوا د پاچاهانو او الهو نومونو او لقبونو ته ځانګړې شوې ده.(ویلیمز، ۲۰۰۴، ص ۱)

کله چې په (۱۹۵۱ع) کال کښې د فرانسوي لرغون پېژندونکي هیئت له خوا په اتفاقي ډول د سره کوتل کتیبه و موندل شوه. محققین په دې قانع شول چې دا یوه باختري ژبه ده چې د پیرسیک ګروپ سره هیڅ ډول نسبي خپلوي او نیژدیوالی نه لري. ټول ختیځ پېژندونکي په دې متفق دي چې ددغو کتیبو

ژبه د افغانستان بومي ژبه ده او په بشپړ لوست يې که څه هم تر اوسه نه دي بريالي شوي خو په مقدماتي ډول يې هغه د افغانستان يوه داسې لهجه بللې چې د ژبنيو موادو په لحاظ له يوې خوا د پښتو او مونجاني(ايدگا) او له بلې خوا د سوغدي، خوارزمي او پارتياني ترمنځه واقع ده. (دوست شينواری، ۱۳۹۱، ص ٦٧)

باختري ژبه تر ۱۹٦۰ م. کال. پورې د تخاري *Toxarian*، رښتيني او حقيقي تخاري *eteo toxarian* په نامه او ځينو پوهانو د باختري ژبې د ليکلو لپاره د اوښتي يوناني ليکدود د کارونې پر بنسټ هغه د گريکو – باختري *Greco-Bactrian* په نامه نومولې ده. ځينو پوهانوورته کوشان- باختري *Kushano-Bactrian* ويلې ده. د باختري ژبې د نامه او د هغې د فهم د کلمې په برخه کې ترهر چا زيات دهننگ *Henning* د احسان پور وړي يو. نوموړي لومړی ځل د سره کوتل د کتيبې تر ژباړې او تحليل وروسته په دې ژبه د باختری ژبې نوم کيښود ( اورمړ، ۱۴۰۱ص. ۱ ).

**د باختري ژبې څخه پاتې شوي آثار**

د باختري ژبې څخه پاتې شوي آثار د سکو، مهرونو، ډبرليکونو، لاسي ليکنو او نور غير مستقيم شواهد دي، چې هريو به يې په لاندې ډول سره روښانه کړو.

**سکې:** د ۱۹۵۰ تر وروستی لسيزې پورې د باختري ژبې د څېړنې لپاره لومړني لاسوندونه د کوشانيانو سکې وې چې د هغه مطالعه د نولمسې پېړی په وروستيو کې پيل شوې وه. ظاهراً کوشانيانو د بلخ تر ولکې وروسته د خپلو کارونو او کتابت لپاره د يوناني ژبې څخه استفاده کوله او باختري ژبه چې د هغه وخت يوه سيميزه لهجه وه په خبرو اترو کې به گټه ترې اخيستل کېده. د خپل حکومت له ټينگښت څخه وروسته يې باختري ژبې ته د ليکنې ارتقا ورکړه او په دولتي چارو کې په کار وړل کېده. همدا دليل دی چې د کوشانيانو د مؤسس کوجولو کدفيسس او د هغه د ځای ناستي پر سکو د پاچا نومونه او لقبونه په يوناني ژبه او ليکدود ليکل شوي دي. دکوشاني دورې پر لومړنۍ لاسته راغلې طلا يي سکه په يوناني ژبه نومونه ليکل شوي دي .

**مهرونه:** تر اوسه پورې ځلوېښت مهرونه چې په يوناني باختري ليک نومونه او لقبونه پرې نقش شوي معرفي شوي دي. دا مهرونه چې د کوشانيانو تاريخ ښودونکي دي په وروستيو دورو پورې اړه لري. زياتره يې په باختري ليک او باختري ژبه سره دي. په مهرونو يې اکثره سرليکونه له لويديځو ايراني(ارياني) ژبو څخه کار اخيستل شوی دی. (زرشناس، ۱۳۷٦،ص ۲۲)

**د سره کوتل ډبرليک:** په سره کوتل کې لومړنی ډبرليک چې کشف شوی په ډبرينو خښتو ليکل شوی دی په لومړي سرکې دوې خښتې ترلاسه شوې چې د لرغونپوهانو توجه يې جلب کړه. له پلټنو څخه وروسته پنځه نورې خښتې هم ترلاسه شوې. په هره ډبرينه خښته په يوناني الفباء درې حروف نقش شوي دي. دا چې ځينې خښتې يې ورکې شوې نو ځکه تر اوسه پورې نه دي لوستل شوې.

دویم ډبرلیک چې د سره کوتل د لوی اورتون له ځانګړي ځاي څخه په لاس راغلی زیړ ته ورته په سپین رنګه ډبره چې آهکي جنس لري اوه حروف پرې لیکل شوي دي.نوموړی ډبرلیک تر اوسه نه دی لوستل شوی نو ځکه ناتمام پاتې شوی دی.

دریم ډبرلیک چې له سره کوتل څخه ترلاسه شوی په ډبرینو تختو لیکل شوی چې ټول اوه کرښې لري. د ددې ډبرلیک د ترلاسه کولو په وخت کې د فرانسي د لرغونپوهانو د ډلې یو غړی موسیوکاوش هم موجود وو، هغه وایي چې ددې ډبرلیک ټول حروف یوناني دي او په کومه ژبه چې لیکل شوي یوناني ژبه او سیمیزه باختري ژبه دي او کولای شو چې (کوشاني) یا ( تخاري) ژبه یې وبولو. (کوهزاد، ۱۳۶۴، ص ۱۴۱)

څلورم ډبرلیک چې له سره کوتل څخه ترلاسه شوی یو لوی ډبرلیک دی. نوموړی ډبرلیک په دویمه میلادي پېړۍ کې پر یوه ښکلي ډبره کیندل شوی او د بغلان د سره کوتل د دژ معبد د ننه ځای پرځای شوی دی. یاد ډبرلیک چې په ښه ډول سره ساتل شوی دی ۱۸۰ لغتونه لري. اوږدوالی یې یو متر او شل سانتی دی، عرض یې (۸۰) سانتي مترو څخه زیات دی، په (۲۵) کرښو لیکل شوی دی هره کرښه یې له ۴۰ تر ۴۵ پورې حروف لري. نوموړی ډبرلیک هم په یونان لیک او باختري ژبه سره لیکل شوی دی.

**د روزګان ډبرلیک:** روزګان یو غرنی ولایت دی چې د کندهار په شمال ختیځه سیمه په دوه سوه میلی کې د غور جنوب طرف ته پروت دی، چې ډېر لرغوني آثار لري. د هغه له جملې څخه په شالي دره کې چې له مرکز څخه د لس میله په فاصله کې ده، د ۵ ـــ ٦ میلادي پېړۍ د هفتالیانو دوخت دوه کتیبې چې په تخاري( باختري) ژبه او یوناني شسکته رسم الخط لیکل شوې موجودې دي.

**د ناوور ډبرلیک:** د ناوور ډبرلیک په دریو لیکونو باختري، خروشتي او دریم خط چې تر اوسه نه دی پېژندل شوی لیکل شوې ده. (زرشناس، ۱۳۷٦،ص ۲۲)

**د جغتو ډبرلیک:** د برګول غر چې د غزني په شمال لویدیځه سیمه کې په ۲۰ کیلو متری کې موقیعت لري دوه ډبرلیکونه په یوناني لیک او تخاري(باختري) ژبه لیکل شوي لیدل کېږي، یو یې په دریو کرښو کې ډېر روښانه، د لوستلو وړ او په ښایسته لیک سره چې یو له بل سره پیوستون لري لیکل شوی. په نوموړي متن کې د بودایي تري رتنه دري جوهرونه ( پوهه، تقوی او اتحاد) لیکل شوي دي.( حبیبي، ۱۳۵۰ ص، ٥٦)

**د باختري ژبې لیکنی سیستم**

باختري ژبه د منځنی دورې یوازینی آریاني ژبه ده، چې لیکنی نظام یې د اوښتي یوناني لیکدود پر بنسټ دی. دوه پیړی په باختر سیمه باندې د یوناني فرهنګ واکمني په دې سیمه کې د باختري دودونو ځنډ شوه په دې دوره کې هر ډول آریاني لیکدود یوې خواته پاتې شو. د آی خانم په ښار کې واقع په عمومي ځایونو کې د یوناني کتیبو موجودیت د هغې ښکارندوی دی، چې یوناني واکمنانو

خپل قلمرو په يوناني ژبه او ليك اداره کاوه او د هغوی د واکمنۍ په موده کې باختري ژبه، احتمالاً د سيمې د ژبې په توګه او يوازې په محاوره کې کارول کېده. کله چې ساکانو د ۱۳۵ ق م په شاوخوا کې وکړای شول د باختر سيمې اداره په خپل لاس کې واخلي، هغوی د خپلې ژبې د لاسه ورکړې اعتبار په بيا احياء کولو پسې متې راونغښتلې او هغه الفبا، چې د باختري ژبې په ليك لوست کې کارول کېده، د باختري ژبې د ليکلو لپاره چمتو او استعمال کړه. ټول باختري متون، پرته له يوې مانوي قلمي ليکنې څخه، په يوناني ليك ليکل شوي دي.

د اوومې ميلادي پېړۍ چيني ګرځندوی هيون تسانګ Hsǜan tsang په ٦۲۹ ميلادي کې افغانستان ته د يو سفر په ترڅ کې د تخارستان سيمې د ژبې توري ۲۵ ګڼلي او ليکلي يې دي، چې دا ليك له کيڼې خوا څخه ښي خواته کښل کېده.

خو د ګرشويچ په اند، هيڅ ترديد نه شته، چې باختريانو د þ ر توری په يوناني ليکدود ورزيات کړی دی، چې د /ش = š/ غږ ورباندې وښيي. نوموړی يادونه کوي، چې د مرکبو يا تم موښلو غږونو د ځانګړې نښې د نشتوالي له امله سيګمه /s/sigma او زيتا /z/zeta د /(ts),c/ او /dz j,/ لپاره او په عين حال کې د z/ž,s لپاره کارول کېدل. يوناني I(iota) د ī,i او y لپاره وه. يوناني اميکرون /o/omicron د u، ū، w غږونو لپاره او يوناني الفا /a/alpha د ā,a غږونو لپاره و( اورمړ، ۱۴۰۱ص.۲۰ ).

(۱ جدول) د پښتو او باختري ژبې ناخپلواک غږونه په لاندې ډول دي:

| ګڼه | يوناني الفباء | د يوناني الفباء نومونه | | پښتو الفباء | فونوميکه بڼه |
|---|---|---|---|---|---|
| 1. | *β* | بېتا | *beta* | ب، و | *β*، *b* |
| 2. | *γ* | ګاما | *gama* | ګ، غ | *g*، *γ* [ *η=γγ*] |
| 3. | *δ* | ديتا | *dita* | د | *d* |
| 4. | *ζ* | ځيتا | *dzita* | ځ، ژ، ز | *dz*، *ž*، *z* |
| 5. | *θ* | څيتا | *θeta* | څ | *θ* |
| 6. | *κ* | کاپه | *kappa* | ک | *k* |
| 7. | *λ* | لمودا | *lamoda* | ل | *l* |
| 8. | *μ* | مي | *mi* | م | *m* |
| 9. | *ν* | ني | *ni* | ن | *n* |
| 10. | *π* | پي | *pi* | پ | *p* |
| 11. | *ρ* | رو | *ro* | ر | *r* |
| 12. | *þ* | - | | ش | *š* |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| .13 | σ | سیگمه | *segma* | س | *ts ، s ،dz* |
| .14 | τ | تای | *tay* | ت | *t* |
| .15 | υ | ییپسلیون | *I psilon* | ی | *h* |
| .16 | φ | في | *fi* | ف | *f* |
| .17 | χ | خي | *xi* | خ | *x* |

منبع:( اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۹۰-۹۱)

(۲ جدول) د پښتو او باختري ژبې خپلواک آوازونه په لاندې ډول دي:

| گڼه | باختري | | تلفظي شکل | پښتو | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | *ā* | آ |
| .1 | *α* | الفا | *3-ابتدایی او α،ā* | *α* | ا |
| | | | | *ə* | ه |
| .2 | *ε* | ییپسلیون | E | e | ې |
| .3 | *η* | ییتا | ē | | |
| .4 | *ι* | یوتا | *i ،ī* | *i* | ي |
| | | | | *o* | اوږد (و) |
| .5 | O | اُمیکرون | *w،ɵ ، ʒ ، o ، ū ،u* | *u* | لنډ (و) |
| .6 | *ω* | اومېگا | *ō* | | |

## د پښتو او باختري ژبې مورفولوژيکي پرتله

تخاري یا کوشاني(باختري) ژبه د افغانستان له اوسنۍ دري او پښتو سره ټینگې اړیکې لري او زیاتې کلمې، ترکیبونه، او افعال یې له پښتو سره گډ دي( صلاحي، ۱۳۸٦، ص. ۱۱)

پښتو ژبه د خپلواکو او ناخپلواکو مورفیمونو له مخې د باختري ژبې سره ډېرې نیږدې اړیکې لري، د باختري ژبې ډېر داسې کلمات هم شته چې په پښتو ژبه کې ژوندي پاتې دي او دا کلمات د دواړو ژبو ترمنځ خپلوي او نیږدیوالی ښیي. د پښتو او باختري ژبې د خپلواکو او ناخپلواکو مورفیمونو ورته والی په لاندې ډول سره څرگندېږي:

**اړیکوییکې ( ربطي آدات)**

پښتو او باختري ژبې د اړیکوییکو له مخې یو له بل سره نیږدې اړیکې لري. د باختري ژبې (αβo) د عطف توری په پښتو ژبه کې د (او) په بڼه سره راغلی دی او دې باختري ژبې د(ut) د عطف توری په

پښتو کې د (او) په ډول سره راغلی دی. هېره دې نه وي چې د پښتو (او) لپاره په باختري کې په دوه ډوله سره د عطف توري راغلي چې دواړه دې (او) معنی ورکوي.

**(۳جدول) د پښتو او باختري ژبې اړیکوییکي په لاندې ډول دي:**

| ګڼه | پښتو | باختري | فونومیکه الفبا | اخځلیکونه |
|---|---|---|---|---|
| .1 | او | αβο | abo | (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۹۴) |
| .2 | او | ατ | ut | |

## سربلونه

پښتو او باختري ژبې د سربلونو له مخې هم سره نيږدې اړيکې لري. د باختري ژبې د (پد) سربل په پښتو ژبه کې د (په) په ډول سره راغلی په پښتو کې يې وروستی (د) په (ه) اوښتی دی او په پښتو کې د ( په ) په ډول سره راغلی دی.

**(۴ جدول) د پښتو او باختري ژبې سربلونه په لاندې ډول سره دي:**

| ګڼه | پښتو | باختري | فونومیکه الفبا | اخځلیک |
|---|---|---|---|---|
| .1 | په | πιδο | *pido* | (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۷۴) |
| .2 | که | | *kid* | |

### د نوم ګرداني اړخونه

په پښتو ژبه کې نوم درې ګرداني اړخونه لري چې عبارت دي له: جنس، عدد او حالت ځخه ( صدیقمل، ناچاپ،ص ۸۱). په پښتو ژبه کې د جنس له مخې نوم په دوه ډوله دی نارینه او ښځینه، د عدد له مخې هم نوم په دوه ډوله دی مفرد او جمع او د حالت له مخې نوم په لومړي سر کې په دوه ډوله دی يو يې لفظي او بل يې شکلي حالت دی. د باختري ژبې مورفولوژيکي جوړښت هم د نورو آرياني ژبو په څېر يې تحول کړی او ساده شوی دی. په دې ژبه کې نوم د شمېر له مخې په دوه ډوله دی مفرد او جمع، د جنس له مخې يې هم نوم دوه ډولونه لري نارينه او ښځينه . (زرشناس، ۱۳۷۶، ص۳۳)

**(۵ جدول) د پښتو او باختري ژبې د نوم ګرداني اړخونه په لاندې ډول سره دي:**

| د نوم حالتونه | باختري ژبه | د نوم حالتونه | پښتو ژبه |
|---|---|---|---|
| **د جنس له مخې د نوم ګرادن** | نارينه<br>ښځينه | د جنس له مخې د نوم ګرادن | نارينه<br>ښځينه |
| | يو ګړی | د شمېر له مخې د نوم ګردان | يو ګړی |

| د شمېر له مخې د نوم ګردان | ډېر ګړی | | ډېر ګړی |
|---|---|---|---|
| د حالت له مخې د نوم ګردان | فاعلي حالت<br>مفوعلي حالت | د حالت له مخې د نوم ګردان | فاعلي حالت<br>مفوعلي حالت |

**په باختري ژبه کې د نوم حالتونه**

د بغلان له کتیبې څخه ښکاري چې د تخاري (باختري) ژبې ځینې نومونه چې په پای کې ږغیز توري«واول» وي په خاصو حالتو کې دغه ږغیز توري اوړي. د تخاري (باختري) ژبې دغه خاصیت په پښتو کې لیدل کېږي خو په فارسي کې نشته. مثلاً: د بغلان په کتبیه کې هم د پښتو په ډول د کانیشکا کلمه چې په واول مختومه ده په دوو مختلفو حالاتو کې کانیشکور_کانیشکي راغلې ده. یو بل نوم په فاعلي حالت کې نوکونزك او موصوفي حالت کې نوکونزیک راغلی دی (حبیبي، ۱۳۸۶، نهمه برخه،ص ۷۸).

۱ـ کنیشکه

اضافي او توصفي حالت: کنیشکو

فاعلي حالت: کنیشکي

۲ـ نوکو نزوك

فاعلي حالت : نوکو نزوك

توصیفي حالت: نوکو نزیک(حبیبي ، ۱۳۸۴،ص۳۱۵)

**د توصفي ترکیبونو جوړښت:**

لکه څرنګه چې په پښتو ژبه کې په توصیفي ترکیب کې لومړی صفت راځي او ورسته موصوف راځي په باختري ژبه کې هم لومړی صفت راځي او وروسته موصوف راځي لکه په لاندې مثالونو کې:

۱ـ بګ شا کنیشکي ( لوی پاچا کنیشکا)

۲ـ بغه شاه ( لوی پادشاه) (حبیبي، ۱۳۸۴،ص۳۱۶)

**د پښتو او باختري ژبې د نومځرو پرتله**

د پښتو او باختري ژبې ترمنځ د نیږدېوالي یوه مهمه برخه نومځري دي چې د دواړو ژبو نومځري یو له بل سره نیږدې اړیکې او ورته والی لري چې هر یو به یې په لنډه توګه سره روښانه کړو:

**خپلواک نومځري**

هغو نومځرو ته ویل کېږي چې په یوازې (خپلواکه) توګه استعمالیږي او د بلې کلمې سره پیوسته او متصل نه راځي.(خویشکی،۱۳۸۹،ص ٦۱). د پښتو او باختري ژبو ترمنځ د اړیکو یو دلیل د نومځرو ورته والی دی چې په لاندې ډول سره راغلی دی:

**۱- د مفرد متکلم نومځری:** د باختري ژبې αζ/ αz د مفرد متکلم ضمیر په پښتو کې د zə په بڼه سره راغلی دی، (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۴۷)

**۲- د مفرد مخاطب نومځری:** د باختري ژبې τo/ tu د مفرد مخاطب نومځری په پښتو ژبه کې د tə په ډول سره راغلی چې په پښتو کې o په ə واول سره اوښتی دی(اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۴۸).

(٦ جدول) د پښتو او باختري ژبې مخاطب نومځري په لاندې ډول دي:

| ګڼه | باختري | فونومیکه الفبا | پښتو | اخځلیک |
|---|---|---|---|---|
| 1. | αζ | *αz* | زه | (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۴۷) |
| 2. | τo | *tu* | ته | (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۴۸) |

**۳- متصل نومځري**

د باختري ژبې متصل نومځری m-mo /μo- μ دا د جمع متکلم ا ضافي متصل نومځری دی اوس هم په پښتو کې د جمع د اضافي مفهوم د افادې ژوندی وسیله ده لکه: کور مو.

(۷ جدول) د پښتو او باختري ژبې متصل نومځري په لاندې ډول سره دي:

| ګڼه | باختري | فونومیکه الفبا | پښتو |
|---|---|---|---|
| 1. | μo- μ | *m-mo* | مو ، مې |

**د پښتو او باختري ژبې د فعلونو پرتله**

د پښتو او باختري ژبې په ګرامري ورته والي کې یو هم د فعلونو ورته والی دی چې دا خپله د دواړو ژبو نیږدیوالی او ورته والی ښیي :

**د باختري ژبې (*ked* / *κεδο*):** د باختري ژبې (*ked* / *κεδο*) ظاهراً د پښتو د (کېدل) له مصدره ماضي فعل دی. لکه په دې جمله کې (تادي او کید) په بیړه او توندي وکړی شوه.

(***κανδο* / *κand***) : د باختري ژبې د (*κand*) کلمه په پښتو ژبه کې د (*kind*) په ډول سره راغلې چې د باختري ژبې ( *a* ) خپلواک توری په پښتو ژبه کې پر ( *i* ) خپلواک توري سره اوښتی دی. (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۱۵)

(***pədrəγdə* / *πιδοριγδο***): د باختري ژبې د (*pədrəγdə*) کلمه په پښتو ژبه کې د (*preṣodəl* / پرېښودلو) په بڼه سره راغلې ده.

(۸جدول) د پښتو او باختري ژبې فعلونه په لاندې ډول سره دي:

| ګڼه | پښتو | باختري | فونومیکه الفبا | اخځلیکونه |
|---|---|---|---|---|
| 1. | کېدل | κεδο | *ked* | (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۵۱) |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 2. | کیند، کیندل | καυδο | κand | (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۱۵) |
| 3. | پرېښودل | πιδοριγδο | pədrəγdə | (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۲۲) |
| 4. | پیرودل | παραλaδο | paralado | |
| 5. | لیدل | λιδο | | (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۶۷) |

**د پښتو او باختري ژبې ویېزه پرتله**

پښتو او باختري ژبې نه یوازې د خپلواکو غړونو، نومځرو، فعلونو او نورو ګرامري اړخونو له مخې سره ورته والی لري بلکې د لغوي زیرمې او لغوي ریښې له مخې هم ډېر ورته والی سره لري چې په لاندې مثالونو کې به یې روښانه کړو:

۱- (*αββο* ) **اوبه**: په پورته کلمو کې د باختري ژبې او پښتو ژبې کلمو ریښه یوه ده خو په باختري ژبه کې د آریاني ά په α او په پښتو ژبه کې په او o سره راغلی دی.

۲- (*τaδιοο* / *tadiw*) **تادي**: د تادي کلمه په پښتو کښې تر اوسه پورې په همدې بڼه پاتې چې په فرهنګونو کې د بیړې په معنا سره راغلې ده.

۳- *Mandar* (**مندر، معبد**) : د باختري ژبې د مندر کلمه تر اوسه پورې په هندي او پښتو ژبو کې د معبد او عبادتځای په معنی شته، چې د ریښې لومړی جز یې د پښتو په (من او منل )کې چې د قبول، اطاعت او لمانځلو په معنی تر اوسه لیدل کېږي. (حبیبي، ۱۳۹۱، ص ۶۸)

۵- (*aloshxal* / **الو ښال ـــ اروابناد**): هیننګ دغه کلمه د رحیم او مهربان په معنی سره راوړې. د کلمې لومړی جز ( ال او ـــ الو ـــ اروا ) دی چې د پښتو او پارسي ترمنځ (ل) تل په (ر) اوړي، لکه: دیوار په دیوال اوښتی دی نو د کوشاني ( باختري) ژبې ( الو ) په اوسنۍ پښتو او فارسي کې ( اروا ) شوی دی.(حبیبي، ۱۳۹۱، ص ۱۱۸)

۶- ( *mang* / **منګ**): د سرخ کوتل په ډبرلیک کې ځینې کلمې دي په یوه اتصافي (ګ) پای ته رسېدلې چې د دغه (ګ) تلفظ د (ګ) او (ك) ترمنځ و، نو که دغه اتصافي (ګ) له دې کلمې څخه لرې کړو (من) پاتې کېږي، چې د پښتو په زاړه ادب کې د ارادې په معنی و. (حبیبي، ۱۳۹۱، ص ۱۲۴)

۷- (*ζaμιγo* / *zamigo*) **ځمکه**: د باختري ژبې (*zamigo*) کټ مټ په پښتو ژبه کې د (*zamәka*) په ډول سره راغلې ده. (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۱۵)

**۸- (pasu / πoσo ) پسه:** د باختري ژبې نوموړې کلمه هم کټ مټ په پښتو ژبه کې د( pəsa ) په ډول سره راغلې ده، چې د کلمې وروستی خپلواک (u) توری په پښتو کې (a ) خپلواک توري سره اوښتی دی.

**۹- (σαδο / cãd) ځاه:** د باختري ژبې د (cãd ) په پښتو ژبه کې د (cã ) په ډول سره راغلې چې په پښتو کې يې د ( d) توری ترې غورځېدلی دی. (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۱۶)

**۱۰- (ζapo / zar ) زر:** د باختري ژبې د (zar ) کلمه په پښتو ژبه کې هم په همدې ډول (zar ) سره راغلې ده چې د نوموړې کلمې ريښــه په نورو کلمو کې هم وينو لکه: زرين. (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۱۷)

**۱۱- (galo / γαλo) غلو :** د باختري ژبې د (galo) کلمه په پښتو کې کټ مټ په همدې ډول (gal) سره راغلې ده.، په پښـــتو ژبه کې يې وروســـتی(o) خپلواک آوراز خورځېدلی دی.(اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۱۲)

**۱۲- (acask /aσaσκ ):هسک، لوړ، پورته:** د هننگ له نظره د باختري ژبې ( څ=c) او ( ځ=j ) د پښـــتو ژبې (س=s) او ( ز=z) ته تکامل کړی دی نو دې تکامل ته په کتلو سره د باختري ژبې (acask) کلمه په پښتو ژبه کې د (hasκ) په ډول سره راغلې ده، چې د لوړ، پورته او آســمان معنا هم ورکوي . (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۱۶)

**۱۳- (rāga / ρaγo ) راغه:** د باختري ژبې دا کلمه په پښتو کې په همدغه ډول ( راغه) سره راغلې ده چې د غره لمنې ته ويل کېږي. (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۳۶)

**۱۴- (ρϖσo ) روغ:** د باختري ژبې نوموړې کلمه په پښتو ژبه کې کټ مټ په همدغې بڼه راغلی ده چې ( روغ يا ورغ ) ده .

**۱۵- (xūz) ښــه :** د باختري ژبې د (xūz ) کلمه په پښـــتو ژبه کې د (xūž ) يعنې خوږ په بڼه او معنا سره راغلې ده. (جعفری دهقی، ۱۳۸۶،ص ۱۲۴)

**۱٦- (marēg) مريی :** د باختري ژبې د (marēg) کلمه په پښتو ژبه کې د (mrayai) مريی په ډول سره راغلې ده.(جعفری دهقی، ۱۳۸٦،ص ۱۲۴)

**۱۷- (niag ) نيا:** د باختري ژبې د (niag ) کلمه په پښتو ژبه کې د (g ) په غورځولو سره د (nia) نيا په بڼه سره راغلې ده. (جعفری دهقی،۱۳۸۸، ص۱۲)

**۱۸- ( κιvo ) کينه:** د باختري ژبې د (κιvo) يا د حســـد کلمې ته په پښـــتو ژبه کې هم (کينه) ويل کېږي.

**۱۹- (ζooιvδoγo ) ژوندی:** د پښـــتو ژبې د ژوند کلمې ريښــه د باختري ژبې له همدې کلمه څخه اخيستل شوې ده. (اورمړ، ۱۳۹۵، ص ۱۳۲)

۲۰- (*ieir*) **اور**: د باختري ژبې د (*ieir*) کلمه چې د (اور) معنا ورکوي د پښتو ژبې د خوست په لهجه کې موجوده ده چې په همدغه (ایر) سره یې تلفظ کوي.

(۹ جدول) د پښتو او باختري ژبې د کلمو د ورته والی په لاندې ډول سره دی:

| ګڼه | باختري | | پښتو |
|---|---|---|---|
| .1 | *αββο* | | اوبه |
| .2 | *ταδιοο* | *Tadiw* | تادي (بیره) |
| .3 | | *Mandar* | مندر |
| .4 | *καλδο* | *Kald* | کله، کله چې |
| .5 | | *Aloshxal* | الوشال، ارواښاد |
| .6 | | *Mang* | منګ، من، منل |
| .7 | *ζαμιγο* | *Zamigo* | ځمکه |
| .8 | *ποσο* | *Pasu* | *pəsə*/پسه |
| .9 | *σαδο* | *cād* | *ca* /ځاه |
| .10 | *ζαρο* | *zar* | *zarin* /(طلا) زرین |
| .11 | *γαλο* | *galo* | غل |
| .12 | *ασασκο* | *acask* | هسک |
| .13 | *ραγο* | *rāga* | راغه |
| .14 | *ρωσο* | | روغ |
| .15 | *Marēg* | | *mrayai* / مریی |
| .16 | *Xūz* | ښه | خوږ |
| .17 | | *niag* | نیا |
| .18 | *κινο* | *kainə* | کینه |
| .19 | *ζοοινδογο* | | ژوندی |
| .20 | | *ieir* | اور |
| .21 | *λογδο* | *logdā* | لور |

**د پښتو او باختري ژبې د شمېر نومونو پرتله**

ژبپوهانو زیاتره په لومړي وخت کې د ژبو کورنۍ د شمېر نومونو (عددونو) له مخې سره جلا کولې او د یوې ژبې اړیکې یې له نورو ژبو سره د هغو له مخې ښودلې ځکه چې شمېر نومونه هغه ویونه (کلمې) دي چې په هر ځای او په هره ژبه کې له زړګونو کلونو راهیسې یا راپدیخوا شته دي. (چمتو،

۱۴۰۰،ص. ۱۷۹). که په پښتو کې شمېر نمونه له باختري سره پرتله کړو په څرګند ډول سره معلومېږي چې پښتو او باختري ژبې يو له بل سره ډېرې نيږدې اړيکې لري لکه په لاندې جدول کې:

**(۱۰ جدول) د پښتو او باختري ژبې شمېر نومونه په لاندې ډول سره دي:**

| ګڼه | باختري | | پښتو |
|---|---|---|---|
| 1. | *ίωγο* | *yuy,yog* | يو |
| 2. | *πανζο* | *panzu* | پنځه |
| 3. | *αταο* | *atao* | آته |
| 4. | *λασο* | *laso* | لس |
| 5. | *πανζασο* | *panzaso* | پنځوس |
| 6. | *σαλο/ σαδο* | *sado, salo* | سل |
| 7. | *πανζοσαδο* | *panzosado* | پنځه سوه |
| 8. | *αζαρο/ ναζαρο* | *Hazaro, azaro* | زر |

**منبع: (اورمړ، ۱۳۹۵، ص. ۱۴٦)**

په پورته ډول سره وينو چې د پښتو ژبې زيات شمېر عددونه د باختري ژبې سره ورته او هم ريښه دي چې له دې څخه په څرګند ډول سره معلومېږي چې پښتو ژبه له باختري ژبې سره نيږدې اړيکې لري.

**پايله**

د دې څېړنې موندنې څرګندوي چې پښتو او باختري ژبې د ختيځو آرياني ژبو په ډله کې له يو بل سره ژورې تاريخي او ژبنيزې اړيکې لري. د دواړو ژبو د فونولوژيکي، مورفولوژيکي او لغوي ځانګړنو پرتليزې شننې وښودله چې د پښتو ژبې يو شمېر بنسټيز غږيز او صرفي جوړښتونه له باختري ژبې سره د پام وړ ورته‌والى لري، چې دا د دواړو ژبو د ګډ تاريخي شاليد څرګندونه کوي.

د فونولوژۍ له پلوه د غږونو د بدلون منظمې بېلګې تر سترګو کېږي. د بېلګې په توګه، د باختري αββο کلمه په پښتو کې د اوبه، ζαμιγο په ځمکه، ποσο په پسه، ρωσο په ورځ (روځ) او ζαρο په زړ اوښتې ده. دغه بدلونونه ښيي چې د دواړو ژبو ترمنځ د غږيز تحول يوه منظمه لړۍ موجوده ده، نه دا چې يوازې د لغوي ورته‌والي تصادفي بېلګې وي.

د مورفولوژۍ له مخې هم د دواړو ژبو ترمنځ د پام وړ ورته‌والى ليدل کېږي. د بېلګې په توګه، د باختري خپلواک نومځري αζ او τοپه پښتو کې د زه او ته په بڼه پاتې شوي دي، او د باختري متصل نومځری μοاوس هم په پښتو کې د مو او مې په بڼه ژوندى دی. همدارنګه، د عطف ويي οδο او αβο د پښتو له او سره، او د باختري πιδο سربل د پښتو له په سره نږدې تاريخي اړيکه څرګندوي.

د فعلي جوړښتونو پرتله هم د دواړو ژبو خپلوي پیاوړې کوي. د بېلګې په توګه، د باختري κεδο د پښتو له کېدل، κανδο له کیندل، πιδοριγδο له پرېښودل او λιδο له لیدل سره د ریښې او جوړښت له پلوه د پام وړ ورته‌والی لري. دغه راز، د شمېرنومونو پرتله ښيي چې د باختري ἰωγο، πανζο، ατao، λασo او αζαρo بڼې په پښتو کې د یو، پنځه، اته، لس او زر په بڼه ژوندۍ پاتې دي، چې دا د دواړو ژبو د ګډې تاریخي سرچینې د شتون لپاره مهم شواهد وړاندې کوي.

د لغوي زېرمې شننه هم څرګندوي چې د دواړو ژبو ترمنځ ګڼ شمېر بنسټیز ویيونه ګډې ریښې لري، لکه مندر، کینه، مریی، نیا، راغه، هسک، غل، تادي او نور. د دغو ویيونو بقا په پښتو ژبه کې د دې ښکارندویي کوي چې د باختري ژبې یو شمېر بنسټیز لغوي عناصر د تاریخي تحول په بهیر کې تر اوسه ساتل شوي دي.

په ټولیز ډول، د دې څېړنې موندنې دا څرګندوي چې پښتو ژبه د ختیځو آریاني ژبو له هغې تاریخي لړۍ سره نږدې اړیکه لري چې باختري ژبه یې یو مهم استازی بلل کېږي. سره له دې، د دغو اړیکو د لا روښانه کولو لپاره د باختري کتیبو، نویو موندل شویو متونو او د نورو ختیځو آریاني ژبو د غږیزو او مورفولوژیکي ځانګړنو پراخې پرتلیزې څېړنې اړینې دي. د دې ډول څېړنو دوام به د پښتو ژبې د تاریخي تحول، د ختیځو آریاني ژبو د خپلمنځي اړیکو او د اندو-اروپایي ژبکورنۍ د تاریخي پرمختګ په ښه درک کې مهمه ونډه ولري.

**اخځلیکونه**

اورمړ، دکتور خلیل الله. (۱۳۹۵). مقدمه بر زبان باختری(جلد اول). کابل: مطبعه شمشاد هاشمی.

جعفری دهقی، محمود. (۱۳۸٦). نگاهی تازه به کتیبه سرخ کتل. نامه فرهنگستان زبان فارسی، ۹ (۲).

جعفری دهقی، محمود. (۱۳۸۸). کتیبه رباطك. مجله آموزش مهارت های زبان دانشگاه شیراز. دوره اول، شماره اول.

چمتو، پوهنوال دوکتور محمدقسیم. (۱۴۰۰). د پښتو ژبې فونولوژیکي او مورفولوژیکي بدلون. سمون خپرندویه ټولنه.

حبیبي، پوهاند عبدالحی. (۱۳۹۱). د دري ژبې مور. ژباړونکې: څېړنیاره جمیله سروري، جلال آباد: همدرد کتاب پلورنځی.

حبیبي، پوهاند عبدالحی. (۱۳۸۴). د پښتو ادبیاتو تاریخ(لومړی او دوهم ټوک). دانش خپرندویه ټولنه .

حبیبي، علامه عبدالحی. (۱۳۸٦). شل مقالې(نهمه برخه). علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

حبيبي، پوهاند عبدالحی.(۱۳۵۰). تاریخ خط ونوشته های کهن افغانستان. کابل: انجمن تاريخ و ادب افغانستان اکادیمی.

خويشـکی، پوهنوال محمدصـابر.(۱۳۸۹).(پښـتو غږپوهنه او وييپوهنه). جلال کوټ: مومند خپروندويه ټولنه.

زرشناس، زهره.(۱۳۷۶). زبان بلخی. نامه فرهنگستان علمی پژوهشی، فصلنامه فرهنگستان زبان و ادب فارسی، سال سوم، شماره اول.

دوست شينواری، سرمحقق دوست محمد.(۱۳۹۱). د افغانستان ژبې او توکمونه. ننگرهار: گودر کتاب خپرنځی.

صديقمل، پوهندوی عبدالعظيم.(۱۴۰۴). د پښتو ژبې مورفولوژي. ناچاپ.

صلاحي، محمدنبي. (۱۳۸۶). د کوشاني دورې د ژبو څېړنه. کابل: د افغانستان مسلکي مطبعه.

کوهزاد، احمدعلی.(۱۳۶۴). افغانستان در پرتو تاریخ. کابل: دولتي مطبعه

نيازی، څېړنوال رفيع الله.(۱۳۹۸). د اندو اروپايي ژبو نسبي څېړنه. د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست.

ويليمز، پرو فيسور نيکو لاس سيميز.(۲۰۰۴). د باختري ژبې په هکله وروستنۍ موندنې او د هغو تاريخي ارزښت.د افغانستان د فرهنگي ميراث ساتنې ټولنه.

https://af.sahartv.ir/pashto_section/pashto_culture_and_art- اورمړ، دوکتور خليل الله. باختري ژبه(۱) مقاله.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:3 Issue: 1 Year:1405**